دجهاد شهادت اسلامي سالمستيم
نابرم دنګوله بشيږ ډيابر... الهي شاګد ته ګيادي...

شهادت

(٤) صفحه

ارګان مرکزي حزب اسلامي افغانستان

شماره مسلسل (١٠٧٧)-شمارة (١٦٤)-چارشنبه (١٨) دلو ١٣٧٤ هـ ش
(١٨) رمضان المبارك ١٤١٦ هـ ق-(٧) فبروری ١٩٩٦ م

ورورحکمتيار دعليشنګ دولسوالي داستازو سره دخبرو په ترڅ کې :

کله چې دکابل مسئله حل کيدوته ورسيده ،رباني استعفأ ته تيارو دښمنانو يوه بله فتنه راولاړه کړه

ځوك چې په خپل عهد اوژمنه ونه دريږي اصلاً دين نه لري اوڅوك چې امين نه وي ايمان نلري

ددنيا په ګوټ ګوټ کې مسلمانان مري اوجګړي وربانډی تحميل شويدي د هغوی جرم څه دی ؟

دطالبانو په نامه يوحرکت شروع شو که داحرکت نه وي شروع شوي دکابل مسئله به حل وه

مهترلام – دسلواغي ١٧ مه :
ورور حکمتيار دلغمان ولايت دعليشنګ د ولسوالي د استازو سره وکتل .
دمهترلام بابا له ښارڅخه دشهادت خبريال شهادت ته وويل چې : پرون دلغمان ولايت دعليشنګ دولسوالي سپين ږيرو ، قومي مشرانو ،عالمانو، روحانيونو او قوماندانانو دنوموړي ولسوالي دولسوال معلم شرين په مشري دمهترلام بابا په ښارکي دورور حکمتيار سره وکتل .
ددغي کتني په ترڅ کي دعليشنګ دولسوالي داوسيدونکو په نمايند ګي دنوموړي ولسوالي ولسوال معلم شرين لغمان ته دورورحکمتيار ورتګ ته ښه راغلاست ووايه زياته ئي کړه : دنورو ولايتونو په پرتله په لغمان کي امنيت ډيرښه اوټينګ دي اودامنيت په ټينګولوکي دلغمان والي استاد عبدالله «واحدي» ستررول لري . موږ يوځل بيا داستاد «واحدي» نه غواړوچي په دي ولايت کي دلازيات امنيت په ټينګښت کي هرارخيزي مرستي وکړي اودي کارته زيات ارزښت ورکړي . موږزويلاي شوچي (٤)مخ

الهي لارښوونی

اې پيغمبره ! دنرمی او بښلنی لارغوره کړه ، د ښوچارو ښوونکی اوسه ، اوله ناپوهانو سره مه نښله .که کله دی شيطان ولمسوی نو دالله پناه وغواړه هغه دهرڅه اوريدونکی او په هرڅه پوهيدونکی دی . په حقيقت کی چې څوپرهيزګاران دی دهغوی حال دا وی چې که کله د شيطان له اغيزی نه ناوړه مفکوره ورسره پيداکيږی نوسمدلاسه متوجه کيږي اوبيا هغوی په څرګنده ترګه وينی چې دهغو لپاره سم کړنلاره کومه يوه ده . پاتی شول دشيطان ورونه ، نو هغوی په خپله ګړلاره را کاږی او دهغوی په منحرف کولو کي هيڅ لټوون نه کوی .
(الاعراف – ١٩٩-٢٠٢)

دخوراکی اوسونګ موادو يوکاروان له جلال آباد نه کابل ته ورسيد

کابل – دسلواغي ١٧ مه :
کابل ته دهراله لاري دسره صليب دکميټي لخوانه دموادورسول يوځل بيا پيل شول .
دسره صليب دکميټي دخبريه اساس ويل کيږي چې : د٢٤ ساعته ځنډوروسته دسره صليب نړيوالي کميټي يوځل بيا دپيښورنه دهراله لاري کابل ته دخوراکي اوضرورت ورموادورسول پيل کړل . دغي کميټي تراوسه پوري ٢٦ ټنه اوږه کابل ښارته رسولي دي.
په کابل کي دسره صليب دنړيوالي کميټي مشر ډاکتر ذکرياويلي دي چې : دوروستي ٢٤ ساعته ځنډاصلي علت دپيښور په هوائي اډه کي بوشمبرګمرګي ستونزي وي اوس چې دغه ستونزي حل شوي دي تاګل شوي ده په نږدي راتلونکي (٤)مخ

ورمه شپه دطالبانوځمکنی حمله پرشا وتمبول شوه

دکابل اداری دالوتکودبمباری په نتيجه کی (١٥) طالبان مړه شول

دطالبانودراکټي حملي په ترڅ کې (١٥) تنه کابل ناريان ووژل شول

کابل – دسلواغي ١٧ مه :
طالبانودکابل اداري پرخلاف په يوه بله حمله لاس پوري کړيدي .
دکابل راديو په قول ويل کيږي چې : ورمه ورځ ماښام طالبانودليديځ او جنوب له لوري دکابل اداري دقواووپه سنګرونوباندي يوه پراخه حمله پيل کړه چي دکابل اداري دقواوودمقاومت په نتيجه کي طالبانو کوم دپام وړپرمختګ نه دي کړي .
وطالبانوددغي حملي په څواب کي (٤)مخ

داکتر «بهير» در ديدار با محمود مستيري :

حزب اسلامي خواهان حل عاجل معضله کشوراست

به هر اندازه بحران جاري ادامه يابد،مردم بامشکلات بيشتر مواجه ميشوند

اسلام آباد – ١٧ دلو:
داکترغيرت «بهير» مسئول دفتر نمايندګي روابط خارجي حزب اسلامي افغانستان دراسلام آباد ديروز با محمودمستيري نماينده خاص سازمان ملل درامورافغانستان ملاقات کرد.
خبرنګارشهادت ازاسلام آباد ګزارش ميدهد :درين ديدارکه شخصيت بارز سياسي وملي کشورمحمدنعيم «فراهي» نيز حضور داشت،پيرامون راه هاي حل بحران کشور بحث تفصيلي وتبادل نظرصورت ګرفت .
ګزارش مي افزايد: داکتر غيرت «بهير» مواضع حزب اسلامي افغانستان دررابطه باحل بحران کشوررابه نماينده سازمان ملل متحد توضيح نمود. مسئول روابط خارجي حزب اسلامي ، سران اداره کابل منجمله احمدشاه مسعودرا عامل ص (٤)

دامريکا دسفير دمرستيال په مشری يوهيئت کندهارته تللي دي

دغــه هيئـت ورمـه ورځ کابـل او جــلال آبـــاد تـه هم سفرکړي ؤ

کندهار – دسلواغي ١٧ مه :
دامريکادسفارت دمرستيال په مشري يوامريکائي هيئات کندهار تـه رسيدلي دي .
دباخبره خبري منابعوپه حواله ويل کيږي چې په اسلام آباد کي دامريکادسفير مرستيال کرسمن او پـه پيښوركي دامريکاقونصل رچارد سيمث دپوهيئات په ترځ کي ورمه ورځ کابل ته تللي ؤ . دغه امريکائي هيئات دکابل اداري په نمايندګي داحمدشاه مسعود اوددغي اداري (٤)مخ

ازهروسيله ممکن نظامي استفاده مي کند
وي ميګويد: طالبان واداره کابل طرح ص(٤)

بروزجنگ درکابل حتمی است

اداره کابل وطالبان طرح خاصی برای حل بحران نداشته به حمله عليه يکديگر آمادگی می گيرند

محمود مستيري

اسلام آباد – ١٧ دلو :
محمودمستيري ميګويد ،اداره کابل وطالبان ظاهراً به حل صلح آميزبحران افغانستان آمادګي نشان ميدهند ولي درواقع اين دوجناح به جنګ عليه يکديګرآمادګي ميګيرند .
يك منبع نزديك به هيئت سازمان ملل متحد درامورافغانستان به شهادت ګفت : محمودمستيري رئيس اين هيئت که اخيراً باسران اداره کابل ، درکابل وهمچنان باسران تحريك طالبان درقندهار مذاکراتي انجام داده مي ګويدطالبان براي حل بحران افغانستان طرح خاصي ندارند ولي براي کسب اقتدار تلاش مي نمايند .
به قول وي احمدشاه مسعود نيز برحفظ اقتدار تاکيد داشته وبراي حفظ آن

درگيری ميان شورای نظار ومحاذ ملی ٩٠ کشته برجای گذاشت

درگيری زمانی اغاز شد که امرلطيف اقدام به خلع سلاح سه قوماندان محاذ ملی کرد

کندز – ١٧ دلو:
دريك درګيري خونين بين هواداران شوراي نظارومحاذملي درولسوالي امام صاحب ولايت کندزده هاتن کشته ومجروح شدند .
يك منبع آګاه ازشمال کشورطي تماس مخابروي به شهادت ګفت : اين درګيري زماني آغازشد که آمرلطيف قوماندان منطقوي شوراي نظارميخواست سه تن ازقومانداتان محلي مربوط ګروه محاذملي راخلع سلاح نمايد.
منبع افزود :اين درګيري خونين که سه روزقبل آغازيافته بود، ديروز باوساطت تعدادي از موسفيدان وبزرګان منطقه ، آتش بس برقرار شدوتلاش هايي درجريان است تاحل پايداري براي اين درګيري بدست آيد.
درګزارش ګفته شده که هردوطرف درګيراز هرګونه سلاح هاي دست داشته خود (ثقيل وخفيف) عليه يکديګر کارګرفتند که درنتيجه (٩٠) نفرشامل چهل نفرازافراد متحارب وبقيه افراد بيدفاع غيرنظامي کشته وتعدادي هم مجروح شده اند .
درګزارش ګفته شده اکثريت قربانيان را اهالي بيدفاع منطقه بخصوص زنان واطفال تشکيل ميدهند درين درګيري چندين منزل مسکوني مردم کاملاً ويران وتعدادي ديګرشديداً خساره مندګرديده است
درګزارش به نقل از اهالي منطقه ګفته شده کـه انحصار طلبي و سلطه جويي هواداران شوراي نظارموجب بروز درګيري شد.

احمدشاه مسعود درگفتگو باخبرگزاری « ای ، اف ، پی »:

عنقريب درگيری جديدی بخاطر تسخيرکابل آغازميگردد

مــاتـنـهــا بـــا طـــالــبـــان درگــيـــری داريـــم

جبل السراج – ١٦ دلو :
آژانس خبري فرانسه به نقل ازاظهارات احمدشاه مسعود ګزارش ميدهد که وي اظهارداشت : «طالبان براي آغازيك حمله جديد برکابل آمادګي ميګيرند .»
وي ګفت که درګيري به احتمال قوي درروز هاي نزديك بابعدازسپري شدن ماه رمضان آغازخواهد شد .
روزنامه فرانسير پست مي نويسد : احمد شاه مسعود که درمرکز فرماندهي اش دردامنه هاي سلسله کوه هندوکش درجبل السراج باآژانس خبرګزاري فرانسه مصاحبه نموده ، –
– حين تبصره بردرګيري هاي جديد درکشور جنګزده افغانستان ګفت :« ګروه هاي مخالف کوشيدند بقول وي «حکومت » استاد رباني را بـه انزوابکشانند اما «حکومت » توانست خود را ازانزوا نجات دهد » .
ص (٤)

استاد سياف ارسال دونامه از جانب اداره کابل به اسلام آباد را تائيدکرده است

جلال آباد – ١٧ دلو:
اداره کابـل طي ارسال دونامه بي سوختاندن سفارت پاکستان در کابل رامحکوم نموده است.
اين مطلب را مولوي عبدالرشيد ظفرسخنګوي اتحاد اسلامي درجلال آباد ازقول استادسياف اظهارداشته است . وي ص (٤)

اداره کابل بيش از هشتصد نفر را درسرحدبين هرات وايران با اسلحه و مهمات مختلف النوع وپيشرفته مجهز ساخته است

جنرال اسماعيل خان وعلاوالدين خان برای يك تهاجم جديد درشهر هرات آماده گی ميگيرند

هرات – ١٧ دلو :
اداره کابل عـده اي افرادي را که درنتيجه تصرف شهرهرات توسط طالبان به ايران پناهنده شده بودند ،بااسلحه ومهمات مختلف النوع وپيشرفته مجهزساخته است .
طبق ګزارش مطبوعات پاکستان اداره کابل درتربيت ومسلح ساختن اين عده سعي بيشتر بخرچ داده وآنان را بحالت آماده باش درآورده است .
قرارګزارشات موثق در اوايـل به تعدادپنج صدنفرکه ازهرات به ايران فراري شده بودند دريك کمپ مخصوص نظامي ص (٤)

بروجردی په کابل کي له ربانی اولفرايی سره وکتل

کابل – دسلواغي ١٧ مه :
دايران دبهرنيوچارو دوزارت مرستيال دافغانستان بله دوره پيل کړه .
دايران دخبري آژانس دخبرله مخي ويل کيږي چي دايـران د بهرنيو چارو دوزارت مرستيال علاوالدين «بروجردي» پرون يوځل بياکابل ته سفرکړي دي .
«بروجردي» پرون پـه کابل کي داستادرباني اودکابل اداري دبهرنيوچارو دوزارت سرپرست نجيب الله لفرايي سره ليدني کړي دي .
داستاد رباني سره دکتني په وخت بروجردي دافغان بحران دحل په اړه اميدواري ښکاره کړي زياته کړي ده چي : ديوشمير دلوسره زمادليدنتواوقناسونويه ترڅ کي ماته داڅرګنده شوي ده چي يوشميردلي دافغانستان دبحران دسياسي حل غوښتونکي دي .
همدغه شان «بروجردي» درباني سره (٤)مخ

سورصليب اوملګری ملتونه دکابل (٣٠٠٠٠٠) خلکوته خوراکی مــواد ورکــوی

سختی يخنی اودنفوسو زياتوالی دکابل دخلکو وضع خرابه کړی ده

پيښور – ددلوي ١٦ مه :
دبشري مرستو مامورين وائي چي دکابل وضـع ډيره خرابه ده . مارتن باريرچي په افغانستان کي دملګروملتو دبشري مرستو امردي وايي چي سږکال سخته يخني اودنفوسوزيات والي دکابل (٤)مخ

نظاميان حکومت تاجکستان روزيکشنبه با استفاده از تانك ها در جاده بزرګ منتهي به پايتخت (دوشنبه) ازاستقامت قوماندان شورشي (محمود خداي بردييوف) درمنطقه چيم تپه واقع در (١٠) کيلومتري دوشنبه راه بندان ايجاد کرده اند – محمود که خواستار برکناري تعدادي از سران رژيم دوشنبه بود ، سرانجام دولت به خواسته هايش تسليم شد و اکنون بحران تاحدي فروکش کرده است

اگرعساکر روسی از چيچن خارج شدند ، آن جمهوری به افغانستان مبدل خواهد شد

عده زيادی از شاروالها ووالیان برخی رياست های روسيه خواستار خروج نيروهای اشغالگر روسی از چيچن ميباشند

دريکی از ايالت روسيه بيش از يك مليون امضاء بطرفداری خروج قوای روس از چيچن بدست آمده است

ګروزني – ١٧ دلو :
همزمان بااوج ګيري تظاهرات هزاران تن ازمردم جمهوري اشغالي چيچن ، اکنون سران کرملن مي ګويند که در صورت فراخواني عساکرروسي چيچن به افغانستان مبدل خواهدشد.
به ګزارش ايتارتاس ، ريفلوخلين يکي ازاعضاي پلندرتبه حکومت روسيه بااظهارنګراني ازجريانات واوضاع کنوني جمهوري چيچن ګفت : اګر عساکرروسي ازآن جمهوري خارج شود، آتش جنګ بيشتر ګسترش يافته وشعله هاي آن تمام مناطق قفقاز را فرامي ګيرد .
اظهارات نامبرده وعده اي ازسران مسکو درحالي صورت مي ګيرد که مبارزان ومردم چيچن رژيم دست نشانده مسکو رادرګروزني برسميت نمي شناسند بلکه خواهان آغازمذاکرات مجدد ومستقيم باروسيه مي باشند .
مبارزان اصراردارند کـه اشغالګران روسي هرچه عاجل ترچيچن راترك کنند و درااسارت نګهداشتن هفتاد نفر ګروګان روسي نيزبه همين منظور صورت ګرفته است.
درعين حال طرفداران ايالت ص(٤)

عالم بزرگ اهل تسنن ايران کشته شد

تهران – ١٧ دلو :
جنازه شيخ احمد صياد عالم بزرګ سني مذهب درايران که ګفته مي شود ده روز قبل به قتل رسيده است درجنوب شرق ايران دريکي ازخيابان هاي بندرعباس پيداشده است
طبق ګزارش منابع خبري، شيخ احمد صياد چندي قبل به امارات متحده عربي غرض جمع آوري اعانه بخاطر پيشبرد امورمربوط بـه حوزه علميه اش رفته بودکه هنګام بازګشت ازامارات ناپديدشدکه ص (٤)

شهادت
ارګان مرکزی حزب اسلامی افغانستان
بیانګرعقاید وآرمانهای حزب اسلامی افغانستان
صاحب امتیاز: حزب اسلامی افغانستان
مؤسس : انجنیرحکمتیار
ناشر : ریاست ارشادوفرهنګ
سرمحرر : محمد نذیر «بشارت»
تحت نظر هیئت تحریر
تیلیفون : ۲۵٦۳۷۸۹
آدرس پستی : ۱۰۳٦ یونیورستی تاون -پشاور

«حکمتیار» په لغمان کی دقوماندانانو وجیبه

څه موده دمخه دلغمان دمسئولینو په بلنه اوغوښتنه دحزب اسلامي افغانستان امیر ورورو«حکمتیار» له ځاځیونه لغمان ته ولاړ، کورنۍ هم ورسره یوځای اوخپل کارمرکزي ځاي ئي هم لغمان غوره کړ .

په دي کي هیڅ شك نشته چي ان له پیله حزب اسلامي اوخاصتاً دهغه قیادت له بیلابیلو خواوونه له توطیو سره مخامخ و، که په کابل کي دکمونستانو دتبلیغاتي چارو ارشیفونه وکتل شي، که په مسکوکي دمجاهدینو په خلاف دتبلیغاتوریکارډ وکتل شي نو ډیرواضح به معلومه شي چي د هغوي اساسي هدف دحزب قیادت اوقوتونه وو .

هغوي حزب اسلامي دخپلو ناوړه تقشویه وړاندي ترټولولوي دښمن لیده ، البته موږ په هیڅ توګه دنورو جهادي تنظیمونو دتقش دکم ښودلو هڅه نه کوو، بلکي وایوچي دکمونستانو اوروسانو لپاره ترټولو خطرناك ځواك حزب اسلامي و .

دهغوي اټکل سطحي نه و، بلکي ترژوري پلټني وروسته همدي نتیجي ته رسیدلي وو .

هغوي پوهیدل چي حزب اسلامي داسلام روح اوپیغام درك کړي ، سرغندوي قوتونه لري، لوي هدف ورته مطرح دي، داصولو اوارمان په سرسودا اومعامله نه کوي، په سازش اعتقادونه لري، داسلام دحاکمیت له تحقق پرته ئي بل شي دجهاد له لاري اونښوته چمتوکولاي نشي، ازاداوخپلواك دي، له مومنانه بصیرت اوملي غرور نه برخمن دي، سرونه ئي قلم کیداي شي خوله الله (ج) پرته بل چاته نشي ټیټیداي «دملت له ناموس اوعزت نه ددفاع په لارکي دهېي تیغه سپاهیانو» په څیر په خپلو ویښواوسرونو لوبي کوي، تعلیم یافته کدرونه لري، دملت له منځ نه راپورته شوي اود قرباني په وخت کي دمنت په سرکي روان دي.

دهمدي وجوهاتوله مخي وچي کمونستانو اوروسانو خپل زیات زور دحزب اسلامي په ټکولولګاوه .

ددي ښه نمونه دځرخي پله زندان دي، هلته تقریباً په سلوکي اتیا زندانیان دحزب اسلامي غړي وو.

په دي علاوه دبل تنظیم له غړي سره به چي وسله وه ، دومره دروند مجرم نه ګڼل کیده ،لکه هغه ځواك چي یواځي به دحزب اسلامي « هویت پاڼه» ورسره وه اودابه ثابته شوه چي دحزب اسلامي غړیتوب لري .

البته یواځي کمونستان اوروسان نهروچي، حزب ئي دقهراوغضب ښه شوي ر ، دجهاد اواسلام ټول دښمنان همداسي وو.

په افغانستان کي دروسانو دموجودیت په وخت کي یوځل دحزب امیر له یوه معتبرامریکائي ژورنالست سره مرکه درلوده ، دمرکي تریاي ته رسیدلو وروسته دحزب امیر له امریکائي ژورنالست نه وپوښتل چي «تاسي ولي زمایه خلاف دومره تبلیغات کوي، ماغرب ته څه تاوان رسولي ، آیازه له دي پرته بل جرم لرم چي جهاد کوم ، په خپل هیواد کي دملت له خوښي سره سم منتخب اسلامي حکومت غواړم اوټینګارکوم چي پردي دي زموږ په ولس باندي خپله اراده نه تپي ، زموږ جهاد دي مقدس پاتي شي اودروس اوامریکاترمنځ دکرکیچ اوټکرېنه نه پیداکوي ، آباداسي کوم بین الللي پرنسیپ امریکاپیداکولای شي چي دهغه له مخي زمادانظریه اودریځ «افراطیت » « تشدد »، « ترورېزم» اوه«جنونیت » وبېودلای شي، که داسي نه دي نوبیا تاسي زمایه خلاف ددومره ناروا تبلیغاتو دتوجیه لپاره څه منطق اودلیل لري ؟

آیاستاسي منطق اودلیل له دي پرته بل څه کیداي شي چي باید اسلام اواسلامي غورځنګونه په هیڅ توګه تبارزته پرنږدي اوپه همدي وجه زما اوزموږ دحزب پراخ اوشدیدمخالفت کوي . »

دورور «حکمتیار» ددي خبروپه ځواب کي امریکائي چي خورا زیرك ژورنالیست و، هیڅ شي دویلو لپاره نه لرل اوتریایه چوپ ناست و .

حزب اسلامي دافغانستان دجهاد اساسي ستن وه، ستر تقش ئي ترسره کړي اودالله (ج) دنظام دحاکمیت په ارمان به خپلي مبارزي ته ادامه ورکوي .

دمسلمانانو دمبارزي له خم وپیچ سره حزب ښه بلد دي ،امتحانونه ورته نوي نه دي ،هیڅ ستونزه ئي له خپل هدف اوکردارنه نشي اړولاي .

لغمان دمشرقي دمنطقي داهمیت له مخي اوپه دي لحاظ چي کابل ته نژدي پروت دي، دورورو«حکمتیار» لپاره داوسیدو اوکارمناسب ځاي دي، لغمان دجهاد لویه اډه ده ، دشهیدانو لوئي قافلي پکي تیري شوي ، بیدار او زړورمجاهدین لري .

موږ په همدي مناسبت لازمه ګڼوچي دننګرهار،لغمان اوسروبي کي دحزب قوماندانان دي ټکي ته متوجه کړو، چي هغوي باید دخپل امیر شخصیت اوپرستیژ په پام کي ونیسي .

خپلواعمالوته جدي پاملرنه وکړي ، ځینې ئي که ښه وي لاښه شي، ځینی ئي چي بي غوره دي اوحرص ئي نه مړیږي ،نوروورته بس ده دیوچاپه اصطلاح « نورخپه په پیسوا غیر شوي وي»، له ناروا اجرأتو، تصرفاتواولاس غزونونه په کلکه لاس واخلي .

حزب امیرته هم زموږ پیشنهاد داډي چي په دي باره کي جدي موضع ګیري وکړي که نورځه نشي کیداي داخو ممکنه ده چي دفتر، معامله ګرو، چپاولګرو،وسله خورو، رشوتخورو، زرغونوالوچاپیریال ، قوماندانانوارابطه له حزب سره ختمه اعلان کړي او ئي ته ئي ځان اوحزب ته دخپلو دناوړه کړدارونو اوبد نامی مخه ونیسي .

پـه کـابـل کـی داولادونـو خـرڅـلاو،

د بی حسی اظهار دبدو عواقبو زیری ورکوی

مبصر

نن مطبوعاتو یوډیربېوګړونکی خبرورلوده چی په کی ویل شوی تیره ورځ د کابل په خواجه رواش کی یوکس په دی خاطر خپل ځان ووژه چی نه توانیدو خپلو اولادونو ته نفقه پیداکړی د بلی لوری د کابل یوه اوسیدونکی خپلی د زړه غوښی (دوه کسه کوچنیان) د پل خشتی مسجد ترمخه دخرڅلاوله پاره کیښولی وو ځکه چی هغه کس نه غوښتل خپل کوچنیان ئی تږګه د لوږی اوفقرد لاسه ساه ورکړی .

ممکن داسی خبرونه ډیروی ،بیواځی په کابل کی نه بلکه په نورو ولایتونوکی هم داسی پیښی منځته راغلی وی .خو افغانستان داسی یوهیواد دی چی دغه ډول خبرونه تری کم رابهرکیږی . ځکه چی افغانان دخپل غیرت په اساس هرڅه په خپلو زړونو تیروی . اوبه غواړی چی خپل د زړه راز دبل غوږونوته ورسوی .

دکمونستو رژیمو په وخت کی داسی پیښی ډیری شوی چی ځکی خلکو خپل ځان

> د کمونستو رژیمونو څخه دمخه په هیواد کی د شاهی رژیم په وخت کی هم یووخت د هیواد والو په سر داسی قحط راغلی وه چی هغوی هم د دی پرځای چی خپل اولادونه ئی ترمخه د لوږی له لاسه پرتکی ووهی ، د هغوی خرڅلاوته او یاد خلکو د کورونو ترمخ پریښودوته ترجیح ورکوله اودا په دی امید چی ممکن اولادونه د ژوند څو ورځی وخت نورهم ترلاسه کړای شی .
> دوخت د رژیم د یوه لوړرتبه حاکم څخه رانقل شوی چی چاورته وویل چی په هیواد کی قحطی دی خلك د لوږی مره کیږی نوهغه ورته ځواب ورکړ چی « اګرګندم نباشد کیك و کلچه بخورد ».

وژني ته ترغیب ورکړی . خو ددی پیښو اساسی علت لوږه اوتنده نه وه بلکه دخپل ځان دعفت او ابرو د ساتلو موضوع وه .هلته چی کله هم کوم کورته روسی عسکر اویاد افغان - روسی ملیشه ورننوتی نو د کورمیشتو وګړو به پوره میړانه مقابله کړی او شهادت ته ئی په بی ابرو کیدو برتری ورکړی ، ځکه په ځینو ځایوکی کومه کورنی یا کوم وګړی د جبری بی ابروبی سره مخ شوی نو بیائی دژوند نه مرګ ته ترجیح ورکړی او د بی غیرتی د ژوند څخه

تیرشوی دی .

د کمونستو رژیمونو څخه دمخه په هیواد کی د شاهی رژیم په وخت کی هم یووخت د هیواد والو په سر داسی قحط راغلی و چی هغوی هم د دی پرځای چی خپل اولادونه ئی ترمخه د لوږی له لاسه پرتکی ووهی ، د هغوی خرڅلاوته او یاد خلکو د کورونو ترمخ پریښودوته ترجیح ورکوله اودا په دی امید چی ممکن اولادونی د ژوند څو ورځی وخت نورهم ترلاسه کړای شی ، دوخت د رژیم د یوه لوړرتبه حاکم څخه رانقل شوی چی چاورته وویل چی په هیواد کی قحط دی خلك د لوږی مره کیږی نوهغه ورته ځواب ورکړ چی « اګرګندم نباشد کیك و کلچه بخورد »ربښتیا هم چی ځوك دکیك او کلچو په مزوکی دومره ډوب وی ، او دملت په هکله ئی د احساس کمښت هم خپل اخری پړاو ته رسیدلی وی، نودهغه څخه به بیا ګیله کول هسی عبث څه دی .

خو په اوسنی وخت اوپه نوی معاصره نړی کـه د لوږی اوقحط د مرګ د ویری اولاد یا دزړه د غوښو سرخلاو د ډیروبی احساسه خلکو احساس هم راتختوی ،او مجبور وی ئی چی د دغی ناوړه حال څخه د وتلو او د دغسی نورو پیښو د پیښیدو دمخه دمنلی دحل له پاره اساسی تدبیرونه ونیول شی .

دبین المللی ادارو انسانی احساس هم دومره را پاریدلی چی دکابل د محصورواوسیدونکو له پاره د غذائی موادو د ترسیل له پاره اسانه لاری ولټوی ،هغه که په عقیده کی مسلمان نه دي او په قوم کی د افغانانو سره هیڅ ډول اړیکی نلری ، خو په انسانیت او خواخوږی کی دومره ګرندی دی اواحساس بی په دی هکله

دومره زیات دی چی دهرمقتدرافغان د کور کور دروازه ورټکوی اود کابل دحکومت لخوا برغمل شوو ګلابندو وګړو ته دغذائی موادو د ورسیدوپه خاطرد لویو لارو د پرانستو زولی ورته غوروی .اوکله ئی چی خپل دا کار بی ګټی ولیدنو دهیواد والو د بدمرغیو دکمښت او د داسی بوګنوونکو پیښو او حادثو دتکرار څخه دمخنیوی په خاطر ئی دا دی د هوائی جهازونو له لاری خپل انسانی کومکونه کابل ولس ته ورسول پیل کړی . کیدای شی د دی لاری دنورو رسواکوونکو بدو پیښو نه مخنیوی وکړی شی .

له بله لوری هلته داحال دی چی یو شمیر خلك خپل اولادونه د اقتصادی مجبوریتونو له مخی پلوری خودبلی مخی په اقتدار مین اوجنګی جنون اخستی خوا وی د وسلو درانیولو اود ولس د نوری تباهی په خاطر په بین المللی مارکیټونو کی یو له بل سره رقابت پیل کړی . د کابل حکومت چی ددغه ډول ټولو پیښو مسولیت هم دالله اوهم دتاریخ په نزد وربه غاړه دی د خپل ولس په هکله د لږ څه احساس کولو هم ځولګه نه ښکاری .

دبی پښتوانی نوټونو بی دریغه چاپول او بیا دیو څو مخصوصو وګړو په لاس کی دهغی پریوتل اوهیواد د اقتصادی نظام مکمل قلجیدل ،دمامورینو د تنخواه ګانو نشتوالی او په هغی کی دحد نه زیات کمښت په اقتصادی برخه کی دعام ولس محرومیت اودهغوی په سرد جنګ وریځی سیری ګرځول ټول هغه څه دی چی نن ئی یوځل بیا پخوانی تاریخ تکرار کړ ، د کابل حاکمه ډله غواړی په کابل حکومت وکړی خو د بشری عاطفی له اړخه دومره کمزوری دی چی دخپلی سیطری لاندی

ولس ته یوه مړی دودی هم نه ورکوی .نن بین المللی مؤسسات د کابل د ولس له پاره په غذایی موادو ډکی طیاری بګرام ته لیږی ترڅو د بشری فاجعو د تکرار څخه مخنیوی وشی خو د کابل اداری همدغه هوائی میدان ته د بشری فاجعو دتکرار په خاطر دبلغاریا او نورو هیوادونو څخه په وسلی بار الوتکی راوړی . نن بشری تعاونی مؤسسی زموږ دهیوادوالو له پاره دکور ،زراعت اوسرك دجوړولو په کارونو

کی لګیا دی خوپه قدرت سپاره بی د ورانولو له پاره دهند اوروس نه ورته تباه کوونکی بمونه واردوی.

هغه عاطفه اواحساس چی دبن موږته راښودلی . هغه احساس چی باید مسلمانان بی نوری نړی ته وروښیی هغه نن غیرمسلمانه نړی موږ مسلمانانو ته او بیا زموږ اسلامی دولت !! اواسلامی حکومت !! ته ورښیی .

څومره به ښه و چی دملت د بی دریغه قربانیو وروسته نن ولس دیوه مرکزی قوی اسلامی حکومت ترسیوری

لاندی ټول راټول وای ، اوخپل هیواد مو نړیوالوته یومثالی هیواد او خپل ولس مو نړیوالو ته دوحدت ، ثبات اوعزم یوه نمونه ګرځولی وای ، او په نړی کی دانسانی خدمت اوبشری عاطفی تاج زموږ دمجاهدینو په سروا ی.

اوس هم وخت دی چی ولس اوهیواد ددی څخه زیات دتوهین او ذلت په تنورکی د ورغورزیدو څخه .په څنګ کولو له پاره په پوره اخلاص اوصداقت کاروکړل شی . دبی ځایه ضد ، حسد ، عقدی ، تنګ نظری ، دقدرت دلیونتوب ، دجنګ دجنون او ... نه لاس واخستل شی . خپل ځان اوخپلی غوښتنی دولس دګټو په مقابل کی قربانی کړی ، دجنګ دغه توری وریځی چی دذلت ، تباهی ، تخریب او محوکیدو پرته نورڅه له ځانه سره نلری ، درحمت په سپینو وریځو چی دباران ، اباداي ، تعمیر، پرمختګ او ... زیری له ځانه سره لری تبدیلی کړو.

داکار دانسانی عاطفی اوبشری احساس پوری ،هغه عاطفه اواحساس چی اسلام بی

درس راکړی ، مربوط د ی. مه پریږدی چی دتیرتورتاریخ په څیر نوری بشری فاجعی وزیږی او بیاتاسی ددغه تور تاریخ بل مثال وګرځی .

دا ستی ده چی ستا اولاد ، ستا عسکری قوتونه او ستا یو څو لاس پوڅی به اوس هم دهغه دپخوانی رژیم د کیك اوکلچو خبره تکراروی اوتاسی به هم دیوی مړی ډوډی مینه داره شوی نه یاست خو د ولس حال ډیرید دی ، او په دی هکله د بی حسی اظهارد ډیرو خرابو عواقبو خبرپه مخ کی لری.

> نن بین المللی مؤسسات د کابل د ولس له پاره په غذایی موادو ډکی طیاری بګرام ته لیږی ترڅو د بشری فاجعو د تکرار څخه مخنیوی وشی خو د کابل اداری همدغه هوائی میدان ته د بشری فاجعو دتکرار په خاطر دبلغاریا او نورو هیوادونو څخه په وسلی بار الوتکی راوړی . نن بشری تعاونی مؤسسی زموږ دهیوادوالو له پاره دکور ،زراعت اوسرك دجوړولو په کارونو کی لګیا دی خوپه قدرت سپاره بی د ورانولو له پاره دهند اوروس نه ورته تباه کوونکی بمونه واردوی.
> هغه عاطفه اواحساس چی دبن موږته راښودلی . هغه احساس چی باید مسلمانان بی نوری نړی ته وروښیی هغه نن غیرمسلمانه نړی موږ مسلمانانو ته او بیا زموږ اسلامی دولت !! اواسلامی حکومت !! ته ورښیی .

اعتذار

میوند

غلطي داانسان له خټي سره اغزل شوي، هرڅوك غلطي کوي هیڅوك دانشي ویلي چي ماغلطي نده کړي اویازه غلطي نه کوم ، ډیرلویولویو خلکوډیري ستري ستري غلطي کړي . موږډیري داسي غلطي ویني چي خلك یي کوي موږیي هم کوو څوغلطي نه ورته وایو . دتاسف ځاي همدادي چي څوك غلطي، غلطي ونه ګڼي، اوغلط کاروته هم سم ویولي دغلطي مثل اصلاً دغلطي دتکرارمخنیوي دي، موږهیش خپله غلطي توجیه کوو، باندني عوامل اواسباب ورته پیداکوو غلطي کول دومره ناوړه نده لکه غلطي نه منل اوهغه توجیه کول که موږ خپلي غلطي منلي نوداسي بده ورځ به مونه په برخه کیده دهرچاغلطي بیلي وي هرڅوك بیلابیلي غلطي کوي، دسیاستمدارانو غلطي بیلي وي داډیره سخته غلطي ګڼل شوي واي چي دسیاست غلطي اواشتباه نشي جبیره کیدي داغلطي یواځي تریوه شخص پوري نشي محدوده کیدي اوزیان بي هم یواځي یوه تن، یا په بله ویتا دغلطي مرتکب ته، نه اوړي بلکي

نوره پرورسره پدغه تاوان اړوي اوملتونه دغه تاوان ته ورسره راکاږي .

مطبوعاتي غلطي یوبل ډول غلطي ده په دغه کالم کي به په مطبوعاتي غلطیوخبري وکړو په هغوغلطیو چي ماهم کړي اوس بي هم کوم په راتلونکي کي به هم کیږي .

په مطبوعاتوکي یوټکي (نقطه) (ع) په (غ) بدلوي اودغه بدلون یوه بشپړه جمله اوبشپړعبارت په بله اړوي . دلته یوټیټك خرپه خر بدلوي له قبل نه قبل جوړوي اوددي پرعکس .

اخباراومطبوعات داسي دي لکه یوچاچي ډیر خوندور اوخوږپلوپوخ کړي وي ډیره خواري بي وورسره کړي وي اوپه ډیرخوندیي خوري خو یوځل بي یوه شګه ترغاښی لاندي شي او دغه یوه شګه دهغه

خوندور اوخوازه پلوټول خونداوخوږلت یوتریخ کپ وګرځوي .

ډیرپرمختللي مطبوعات هم له طباعتي غلطیو نه له یوي مخي پاك نشي ګڼل کیدي .

په مطبوعاتوکي داخبره ځاي او جرازنلري چي «عاقلان پي نقطه نه ګردد» دلته دټکو اوحرفونوټول داسي دي لکه یوزرګرچي دسروزروپه تول کي څومره

حال دویلولایق نه دی

دقت اوپام کوي . دلته هم یوحرف اویوټکي همغسي تلل کیږي په همدومره دقت اوارځښت لاندي باندي کولي شي . طباعتي غلطي کله داسي وي چي دلوستلو پروخت بي لیکوال هم پوه نشي

چي څه مي لیکلي طبیعي خبره ده چي لوستونکي خوبه ډیري ستونزي ولري .

زه خپله چاپ شوي لیکنه بیانه لولم کله ناکله بي چي کومه برخه ددي لپاره چي دساتسورله غلبیل نه وتلي که نه له نظره تیره کرم نوپه طباعتي غلطیوورپیښیږم داسي غلطي چي نن بي پدغه لیکنه مجبورکړي یم زه دامنم چي شهادت ورځپاڼه هغسي امکانات اولازم پرسونل نه لري چي دیوي ورځپاڼي لپاره ضروري اولازمي دي ، داپخپل ځاي خولدي نه داجرازهم څوك نشي حاصلولي چي په غلطیوله یوي مخي سترګي پټي کړو .

دجنوري د۱۸ نیټي په ګڼه کي دځپورشوي کالم عنوان باندي به ترهغه څوك ونه پوهیږي چي کالم بي تریایه نه وي لوستي په پاي کي چي کوم شعر راغلي دهغه نیم بیت په مسخه شوي بڼه عنوان شوي پداسي حال کي چي بیا هم شعرته په عنوان اونه هم دکالم په پاي کي په سمه توګه چاپ شوي دي .

په یوه بله ګڼه دبایستونو سیاستونو چاپ شوي چي له سیاست سره دمصحح

علاقمندي په ګوتوکوي اوزموږدسیاسي ذهنیت مجبوري ګڼلي شي .

داسي که زه دهغوټولو طباعتي غلطیوفهرست چي کله ناکله په ځغلنده توګه زماله نظرتیره شوي دلته راوړم نوبیابه بي دغلطنامي په توګه خپرول ضروري وګڼل شي اوهغه هم داسي غلطنامه چي ډیرځایه به دغلط شوي لفظ تکرارته هم څوك زړه ښه نشي کړي په یوه کالم کي غولول داسي څه لیکل شوي و، چي هغه اوس هم زه نشم لیکلي داسي بي په غلطنامه کي هم څوك لیکل اوځایول مناسب نشي ګڼلي . په کالم ،شعر، افسانه اونوروادبي لیکنوکي دیوحرف لاندي باندي کیدل اوپاتي کیدل دلیکني په شارګوتو چاړه راکښل اودلیکني دروح وژل دي داقتل که دلیکوال قتل ونه بولو دحرفونوقتل، دقلم قتل او دفن اوهنرقتل خوبي ګڼلي شواوقتل خوبقیناً چي ډیره ستره ګناه ده .

داخوته ولوله چي سترګوکي دي
نوري خبري مي په زړه پاتي دي

هزاران مسلمان مفقودالاثر بوسنیایی قتل عام شده اند

سرایوو - ۱٦ دلو :

الیسابت ریهن گزارشگرحقوق بشر سازمان ملل متحد در بوسنیا هرزه گوینا روز یکشنبه اعلان داشت : هزاران مسلمان بوسنیایي که درجریان تعرض وحشیانه ماه جولاي صربها به شهر

سربرنیکا که ازطرف سازمان ملل منطقه امن اعلان شده بود، لادرك شده اند ، تماماً کشته شده اند .

به گزارش خبرگزاري فرانسه ریهن گفت : «میرسلاودیروتیك » یك افسر حربي درمنطقه به وي اطلاع داده که

براساس تخمین هاي متعدد حدود سه تاهشت هزارمسلمان درجریان جنگ کشته شده ودرګرشه وکنارسربرنیکادفن شده اند . وي بعداز سفري به مناطق مسلمان نشین بوسنیاکه هنوزهم تحت

کنترول صربها قرار دارد، درصحبت باخبرنگاران ازلادرك شدن هزاران مسلمان بوسنیایي درین شهرها سخن گفته که اکثرشان مرد بوده اند .

وي گفت بعدازسقوط این شهر (سربرنیکا) بدست صربهابتاریخ (۱۱) جولاي مسلماناني که سنین شان براي خدمت عسکري مناسب مي بود بصورت

عموم جمع آوري ودرمخفي گاه ها تیرباران مي شدند .

وي تاکید نمودکه گرچه «دیروتیك » وقوع قتل عام باموجودیت گورهاي دسته جمعي راتصدیق نکرد ولي قتل عام روي

داده وګورهاي متعدد دسته جمعي نیز درین منطقه موجود است .

نامبرده روزشنبه وارد سرایو شدتادرمورد گورهاي دسته جمعي تحقیق نماید .

سازمان هاي بین المللي میگویند بیش ازهشت هزارانسان بعداز آنکه صربهابراین منطقه مسلط شدند ،ناپدیدشده اند .

درواشنګټن تصاویري نشرشده که توسط ماهواره هاي جاسوسي عسکیرداري شده و موجودیت چندین گوردسته جمعي رانشان میدهد .

عملیات نظامي صربهادرین منطقه را که اطراف آن تحت تسلط صربها بود، قوماندان صربي موسوم به راتکوملادیچ که (۱۵۰۰) جنگجوتحت فرمان داشت،ر... مي کرد وبه تاریخ ٦ جولاي آغازیافت

نیروي حافظ صلح سازمان ملل در سربرنیکا که شامل ۷۰ سرباز آلماني بود به

آساني منطقه را ترك کردند زیراقواي ناتوکه مامور همکاري وپشتیباني هوایي ازین نیروها بود ازهرگونه اقدامي علیه صربهاخودداري کرد .

بعدازآنکه بتاریخ ۱۱ جولاي ناتوفرمان حمله هوایي علیه قواي صربي

را دریافت کرد، زماني بودکه سربرنیکا کاملاً به تصرف صربها درآمده بود. درین شهرکه درمحاصره کامل صربهاقرارداشت صرف (٤٠٠)سربازمدافع موجود بودکه ازنظرتسلیحات و امکانات دفاعي درفقر کامل قرارداشتند .

سربازان آلماني عضوقواي حافظ صلح سازمان ملل به «پوتوکاري » درشمال سربرنیکاقرارکردند و(٤٥) هزاراهالي بیدفاع این شهررا درچنگال خون خواران صرب رها کردند.

ملادیچ زنان و اطفال این شهررا بوسیله بس هاولاري هابه شهرتوزلا که تحت کنترول نیروهاي دولتي بوسنیا بود فرستاد .

اکثرمهاجران به مقامات رسمي سازمان ملل درتوزلا اظهارداشتند که مهاجمان صربي درسربرنیکا قتل عام برپاکردند واز هیچگونه ظلم وجنایت دریغ نکردند که یکي ازموارد معمولي این جنایات قتل عام مسلماناني بود که ازنظرسن میتوانستند شامل اردوشوند.

سربازان فرانسوی تحت فرمان "ناتو" اسناد یك زن سالخورده مسلمان رادرحومه سرایووپایتخت بوسنیا هرزگونیا بررسی مینمایند.

سیرة النبی

نویسنده : ابوالحسن ندوی   برگرداننده : تمیم

بانوی فداکاریکه فرزندش را به مبارزه وشهادت می انگیزد

پیش ازآنکه فرمان حجاب برسد، ام المؤمنین عایشه رضي الله تعالي عنها وعده يي ازبانوان مسلمان، درحصاريكه حارثه بهم آمده بودند واين زمانيست كه مشركين مكه ومدينه بالشكري فراوان آهنگ تهاجم برمسلمين راداشتند وحلقه محاصره دمبدم تنگترشده ميرفت . سپاه مسلمين نيز لزوماً كنارسنگرا(خندقي كه پيرامون شهرمرتب كرده بودند) درحالت انتظار ودفاع بسرمي بردند . سعدجوان بازره كوتاهي كه حتي بازوان وي راهم نميتوانست بپوشاند و ازضربت دشمن ،حفاظت كند، فرارسيد .

مادرسعدكه درجمع زنان بود ، نگاهش به چهره فرزند افتاد وبيصبرانه فرياد برآورد : اي فرزندم! زود باش وباسپاه مسلمين درآميز كه خيلي ديرشده وتوازايشان عقب مانده يي .

ام المؤمنين عايشه رضي الله تعالي عنها ميگويدكه من به اوگفتم : اي مادرسعد! سوگند بخداوند (ج) ، بسيارتمنامیکنم كه جامه جنگي سعد، فراگيرتر ازآنچه هست ، باشد. شكي نيست كه كوتاهي ونارسايي لباس جنگي سعد، ام المؤمنين عايشه رضي الله تعالي عنهارا خوفناك گردانيده بود . درهماندم سعد يكراست به سپاه مسلمين پيوست ،تيري ازجانب دشمنان دربازويش نشست ورگ حياتش را قطع وبدين طريق دريك لمحه كوتاه، درغزوه بني قريظه ،مرتبه بلندشهادت را حاصل كرد .

لشكرهای زمین وآسمانها درفرمان خداوند است

مشركين باقشون فراوان خويش مسلمانان را درحدود يكماه به محاصره كشيده وكليه ساحات اطراف آنان رادراشغال وتصرف شان درآوردند .

آزموني سخت وبلاي دشواري روي آورد كه دربي آن نفاق وپراگنده گي درميان سپاه مسلمين رونماگرديد، چنانكه برخي افراد ازحضورپيامبرعليه السلام دستورمرخصي وبازگشتن بخانه هاي شان را تقاضا ميثمودند وبهانه پيچيده دراستدلال آنان اين گونه بود : وشكي نيست كه خانه وخانواده هاي مابدون سرپرست است ، ودرحاليكه بدون سرپرست وبيدفاع نيست، ايشان(ازين بهانه سازي) اراده يي به جزفرارازجنگ رانداشتند ».

درهمان لحظات تنگ وحساس كه ذات خداوند جلت عظمته خوددرقرآنكريم خوفناكي وشدت آنرا بيان مي كند وپيامبرعليه الصلواة والسلام بایاران شان درتنگناي فرسايندهء آن قرار داشتند؛ باري نعيم پسر مسعود غطفاني بحضور پيامبر عليه السلام آمد وعرض كرد : اي فرستاده، خدا! من يقيناً بـه دين اسلام گرويده ام وتاهنوز قومم به مسلمان شدنم اطلاعي ندارند؛ بناءً هرامروفرمايشي كه داشته باشيد، مرادستوربدهيد كه به اجرا والجام آن بشتابم . رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمودند : اي نعيم ! اگر ميتواني رخ جنگ را ازمقابل ماتغييربده ، به اين مفهوم كه مشركين را باحيله ونيرنگ ممكنه ازعزيمت جنگيدن باما، منصرف بگردان وبجان يكديگرشان بينداز كه جنگ درذات خودخدعه يي بيش نيست .

نعيم پس ازدريافت فرمان پيامبرعليه الصلواة والسلام ، شتابان بجانب مشركين درحركت افتادو نخست به نزديك بني قريظه رفت وباآنان باچنان لهجه واسلوبي به صحبت واستدلال پرداخت كه يكباره آن كوردلان مشرك را درمورد نادرست بودن پيمان ودوستي شان باقريش ومردم غطفان كه مردمي بيگانه اند وهيچگونه رابطه وپيوند منطقه يي و معقول باايشان ندارند؛ وبرعكس خصومت ورزيدن با مهاجرين وانصار كـه از همشهريان وهمسايگان هميشگي آنهاهستند ، قانع وراضي گردانيد .

مضاف براين به آنان گفت كه درحمايت ازقريش وغطفان نـه جنگند، مگرآنكه گروگانهايي ازافراد برجسته و اشراف نامدارشان بگيرند تابهنگام ضرورت وپيامد هاي نادرست ازقبيل بدعهدي وپيمان شكني ها؛ دستآويزجبران كننده يي باخود داشته باشند. پس، همگان لبيك زنان گفتند: مرحبا اي نعيم ! مشورهء سودمندي بمادادي .

سپس بجانب قريشيان روي آورد وباظاهري آراسته بااخلاص وصميميت ، آنان رانصيحت كنان اطلاع داد كه يهودبني قريظه برپيمان وتعهديكه بسته است، پشيمان گرديده وبراي ورود و اشتراك درجنگ، خواستارآنست كـه چندتن ازبزرگان واشراف شمارا به صيغهء تأمين عهد دراختيارخويش درآورد .

مگرواقعيت آنست كه اصلاً ميخواهد گروگانان رابه پيامبرصلي الله عليه وآله وصحبه وسلم بسپارد، تا بدين طريق گردنهاي اشراف وبزرگان تان باشمشير مخالفين بريده شود .

نعيم بن مسعود وقتي دانست كه سخنانش دردل مشركين قريش باسختي تمام تشويش واضطراب آفريد، بدون درنگ خودرا به نزدجنگجويان غطفان رسانيد وهمانگونه الفاظ وعباراتي راكه دردل ودماغ بني قريظه وقريش ايجاد بدگماني كرده بود، درقالب جملاتي انگيزنده تر، تقديم اينان نمود .

بناءً هردوقبيله، قريش وغطفان نسبت به يهود بني قريظه بدگمان گرديده ، ازناحيه آنان به خوف وبيم افتادند و دراندك زماني نشانه هاي نفاق وپراگنده گي ميان احزاب مؤتلف عليه مسلمين نمودارشد. ائتلاف احزاب مخالف مسلمانان دراثرمساعي نعيم بن مسعود تاآنجا برهم خورد كه ميان افراد يك قبيله واحد نيز حس اعتمادواطمينان باقي نماند .

هنگاميكه ابوسفيان واشراف قبيله غطفان پيشنهادجنگ بامسلمين رادادند ، يهودبني قريظه خودداري كرده وخواهان گروگانهايي از سران ايشان شد . چون براي شان ثابت گرديدكه سخنان نعيم بن مسعود دايربه قتل سران آنها، صادقانه ودوستانه بوده است، لهذا ازسپردن گ گانان وبرآورده ساختن تقاضاي بني قريظه اباورزيدند .

وهم به اين طريق صدق گفتارواخبار نعيم بن مسعود براي اينان نيز آشكار شدودرنتيجه يك فرقـه از همكاري وهمسويي بافرق ديگر درجنگ عليه مسلمين دست كشيد .

مضاف براين درغزوه خندق ، سانحه ديگري كه باحكمت خداوند (ج) روي آورد وبه خير مسلمانان وشكست وبازگشت مشركين انجاميد ، بادي تندوصرصرگونه بودكه درغايت سردي وسرعت شب هنگام به وزيدن آغازكرد وخيمه وخرگاه آن مهاجمان را به صورت خس وخاشاك بهوا برداشت . نـه فرش بجاماند ونه ظرف . ريگهايي كـه مالامـال از طعام وخوردنيهابود، يكسره واژگون گرديده وباخاك درآميخت .

هيبت وزش طوفان گونه، باد به قدري رعب آور بودكه سپاه مشركين همگان دل ازدست داده وموبراندام شان راست شده بود

پس، ؛زهباهووگير و دارآن قيامت صغري، ابوسفيان ا زجابرخاست وبه اطرافيان خودچنين گفت:

اي جماعه، قريش ! سوگندبخدا كه هيچ يك ازشما نميتواند اين شب سياه و بلاخيزرا دراين مقام به سپيده دمان برساند . اسپان وبقيـه مركبهايي كه شماوسازوسامان جنگي شمارا حمل ميكرد، همه نعل ريختند وبيكاره شـدند . يهود بني قريظه نيز بااظهارمخالفت وبدعهدي ستون كمرمارا شكست وازايشان آنچه را كه ناخواستني و بـد آيندبود، مشاهده كرديم .

ص (٤)

دابه څوك باوركړي ؟

زه ئي پخپله نه باوروم چي دادي ليكم ئي، نوبل څوك به ئي څنگه باوركړي چي ددنيا ددويم اقتصادي ځواك صدراعظم دي په داسي كوركي اووسيږي چي هلته موږكانوسوري جوړي كړي اودشپي دهغوله لاسه څوك خوب نشي كولي . په نړي كي داقتصادي ،پرمختگ اوپياوړتياله نظره ددويم هيوادصدراعظم دسارپه يوي زړي محلي كي دبومنزله تعميرپه زړو كوټوكي بايد ژوند تير كـړي ،دهغوله جوړيدو راهيسي ٦٧ كاله تيرشوي. هرڅه ئي زاړه دي خوددغه ملك قانون دادي چي څوك بيكي دهيواد له ټولو٠لوړحيثيت اومنصب ته ورسيد نودهغه لپاره دغه كور دي كه پكي اوسيده نوډيره ښه ، كنه نوپخپل شخصي مصرف دي ځان له كوروښسي، دولت هغه ته له دغي ماڼي (!) پرته بل څه نشي برابرولي .

تاسي دافكرمه كوي چي زه گټي دكومي عمري (رض) تولني خبره كوم، نورموږ دعمري عدالت خوبونه نه وينو، خوداخبره دشلمي پيري ده اوهيواد هم دكفارو دي، دداسي كفاروچي كله زموږ «صبيان» دهغوي په لاسونو جوړوشوو موټرو كي كښيني نوبيائي نه خداي (ج) په يادوي اونه دخداي (ج) بنده گان .

